
لومړی کچه

التعليم فوق الجميع | education above all

storyweaver PRATHAM BOOKS

# یو، درې، پنځه، مرسته



**لیکوال:** کوژالي مانیکوال
**انځورګر:** سونال ګوپتا واسواني

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



د کوپړې ګونګټې له شمېرلو
سره مينه لري. هغه اوس
ګلپاڼې شماري.

يو، دوه، درې، څلور – **ډببب!**



هغه چیغه کوي، ”پالپونکې (سره ګونګټۍ)! آیا د مهربانۍ له مخې کولای شې ما په بل مخ واړوې؟

پالپونکه (سره ګونګټۍ) زورونه وهي او د زور وهلو له امله ساه ساه کېږي. خو هغه نه شي کولای ګونګټ په بل مخ واړوي.



”چرچرکانو!“ هغه ناره کوي.

درې چرچرکان د مرستې لپاره راځي. د کوپړي ګونګټ خپل ملګري شماري. ”یو، دوه، درې، څلور. څلور یو جفت عدد دی.“

څلور حشرې زور کوي اود زور کولو له امله ساه ساه کېږي. خو هغوی نه شي کولای د کوپړي ګونګټ په بل مخ واړوي.

۴ = ۳+۱



پالپونکه چیغه کوي، ”د
سوسن پتنګانو!“

پنځه د سوسن پتنګان د مرستې
لپاره رارسېږي. د کوپړې ګونګټ
خپل ملګري شماري. ”تاسې نهه
تنه یاست چې ما سره مرسته کوئ.
نهه یو طاق عدد دی!“

نهه حشرې زور وهي او د زور
وهلو له امله ساه ساه کېږي.
خو هغوی نه شي کولای
ګونګټ په بل مخ واړوي.

**۹=۵+۴**



۷ ټوپونه وهونکې غټې مرستې ته راځي.
**ټپ ټپ ټپ.**

د کوپړې ګونګټ خپل ملګري شماري. “”اوس شپاړس تنه دي. دا یو جفت عدد دی!“

شپاړس ملګري زور وهي او ساه ساه کېږي. خو دوی
نه شي کولای د کوپړې ګونګټ په بل مخ واړوي.

**۱۶=۷+۹**





پالپونکه چیغه کوي، ”جالۍ-وزرې حشرې (lacewings) راوغواړئ.“
نهه جالۍ-وزري حشرې د مرستې لپاره راځي.

”اوهو، دا خو پنځه ویشت شول،“ سترې ستومانه د کوپرې ګونګټې وویل. ”پنځه ویشت یو......دی.“


”...یو طاق عدد! “ پنځه ویشت ملګرو چیغه کړه.

**۲۵=۹+۱۶**









پنځه ویشت ملګري زور وهي او ساه ساه کېږي او ... هغه دی **واوښتو!**

بالاخره، هغوی د کوپړۍ ګونګټ په بل مخ واړاوه.

**جفت عدوونه** په اخر کې یو له لاندې عددونو څخه لري

۰، ۲، ۴، ۶، یا ۸

**طاق عدوونه** په اخر کې یو له لاندې عددونو څخه لري

۱، ۳، ۵، ۷ یا ۹



**په دې مخ باندې طاق څیزونه او جفت څیزونه وشمارئ.**

آیا تاسې یو جفت عدد یا
یو طاق عدد ترلاسه کوئ کله چې تاسې دا عددونه جمع کوئ؟

طاق عدد + جفت عدد =؟

جفت عدد + جفت عدد =؟

طاق عدد + طاق عدد =؟

## لاربښودونکې پوښتنې

1. د درې هغه حشرو نومونه واخلئ چې د کوپرې ګونګټ سره د مرسته کولو هڅه کوي.
2. د کوپرې ګونګټ په بل مخ اړولو لپاره څومره حشرو ته اړتیا شوه؟
3. دوه ګلونه رسم کړئ چې یو یې جفت ګلپاڼې او یو یې طاق ګلپاڼې ولري.
4. ځینې کومې حشرې دي چې تاسې خپل شاوخوا لیدلې دي؟
5. آیا ستاسې په اند حشرې د چاپېریال لپاره اهمیت لري؟ د خپل ځواب دلیل ووایئ.